IPO 03

# International Protection Office

## دبې سرپرسته کوچنیو/جلاشوولـه پاره معلوماتي کتابګوټی
## هغه ماشومان چېبې لـه موراوپلار دي او دنړیوال خوندیتوب غوښتونـکي وي

**مهرباني ورکړی د دهغې کتابګوټی کی ټول ورکړل شوی معلومات ولولي**

**دغه کتابګوټی دهغوماشومانو(د 18کلنی نه لږعمر) لپاره دی چې دنړیوال خوندیتوب غوښتونـکي دي او بیلـه مور اوپلار یا نورومتولیانووي د معلوماتولـه پاره دی.**

## اړینـه یادونـه

**دنړیوال خوندیتوب غوښتونـکو لـه پاره په آیرلینډ کې قانون د2015 کال دنړیوال خوندیتوب په قانون کې تنظیم شوی دی. تاسې په لاندې ویب پاڼه کې د2015 کال دنړیوال خوندیتوب قانون ته مکمل لاسرسی لرلی شئ.**

[www.ipo.gov.ie](http://www.ipo.gov.ie)

**دغه کتابګوټی یوازې دمالوماتو اولارښووني لـه پاره دی. دغه کتابګوټی د2015 کال دنړیوال خوندیتوب لپاره قانوني لارښوونـه نـه ده.**

Pashto

## محتويات


1.د دغه کتابګوټي په اړه
2.ما سره به څوک مرسته وکړي؟
3.د غوښتنليک لومړنۍ پروسه
4.د يو ژباړونکيدنده څه ده؟
5.لومړنۍ مصاحبه
6.تصوير او دګوتونخښني
7.آيا کېدای شي چې زه کوم بل هيواد ته بېرتهوليږل شم؟
8.دډبلين مقرره
9.هويت څه شی دی؟
10.د عمر ارزونه
11.د عمر ارزونې مصاحبه
12.زما د غوښتنليک لهارايي څخه وروسته نور څه؟
13.پوښتن ليک
14.اصلي مصاحبه
15.ستاسېد غوښتنليک دارزونې نه وروسته راپور
16.سپارښتنه يا توصيه
17.که ماته نړيوال خونديتوبراکړل شي څه به پېښ شي؟
18.که ماته نړيوال خونديتوبڅخه را نه کړل شيبيا به څه پېښ شي؟
19.هغهموسسې چې تاسې به ورسره په تماس کی کيږئ
20.نور مالومات
21.ستاسې مهمې ټيليفونشمېرې او برېښناليکنو پتې

## 1. د دغه کتابګوټي په اړه

اسلام علیکم! دغه کتابګوټی د هغه جلاشوکوچنیو/ماشومانوله پاره دی چې د بې له مور او پلار یا ساتونکي دلته را رسېدلی دي د کورنی د اداری TUSLA له لارې دنړیوال خوندیتوب لپاره یې غوښتنه کړې وي. دنړیوال خوندیتوب له پاره د ماشوم او کورنی اداره TUSLAآیرلینډ کې جلاشووکوچنیو ماشومانوګټه په پام کې نیولوسره دا غوښتنلیک چمتوکوي.داچې داسې یوغوښتنلیک چمتوشي که نه، دا به دهغه دفتر چې د نړیوال خوندیتوب(IPO)په نامه یادېږئ د هغه کارکوونکو په واسطه پلټنه کېږي.

جلا شوي ماشومان چېد18 کلو ځخهکم عمر لري هغه ماشومان دي چې له خپل اصلي هیواد څخه بهر له دواړومور او پلار یا له خپل قانوني/عرفي لومړني پالونکي/ساتونکي څخه جلا شوي دي.

دغه کتابګوټی بهدا شرح کړي چې د نړیوال خوندیتوب څه دیاو د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک له پاره بیلابیل پړاوونه کوم دي.

تاسې باید دغه کتابګوټی د لومړي مخ څخه تر پایه ولولئ او یوه شئ چې ستاسې په استازولی کله چېTUSLA د نړیوال خوندیتوب له پاره یوغوښتن لیک چمتو کړی څه به پېښ شي.

تاسېباید دغه کتابګوټی وساتئ کېدای شي چې دا به ستاسې ته په آیرلینډ کې د نړیوال خوندیتوب غوښتونکي مرحلې کې ستاسې سرهمرسته وکړي. په دې کې تاسې له پاره یو داسې مخ هم شته چې هغه ګټورې دټیلیفونونوشمېرېاو برېښنالیکپتې پکې وساتئ.

تاسې بایدد نړیوال خوندیتوبغوښتونکویعنې درخواست کوونکو له پاره دغوره مالوماتو کتابګوټی هم ولولئ . که چېرته تاسې په دې کې د کوم شي د پوهېدو له پاره مرستې ته اړتیا لرئ، تاسې باید ستاسې د TUSLA له استازي څخه وغواړئ چې هغوینورې قانوني لاربنوونې او مرستې ولټوي.

## 2.ما سره به څوک مرسته وکړي؟

دا ځکه چې تاسې د18 کلونو څخه کم عمره یې، تاسې په آیرلینډ کې اجازه نه لرئ چې ځینې تصمیمونه په پخپله ونیسئ. ددې له پاره تاسې هغه بل چاته اړتیالرئ چې ستا مسؤل دی ترڅو له تاسې سره ددغو تصمیمونو نیولوپه اړه مرسته وکړي.

که تا د نړیوال خوندیتوب په دفتر یا آیرلینډ ته د ننوتلو په بندر کې نړیوال خوندیتوب غوښتونکی وسې او، که چیرتهتاسې د 18 کلو کم عمره ماشوم پیژندل شوی یې، او یا دیوه مناسب بالغ په حفاظت کې نه یې، نو ته بهTUSLA ته راجع شی.

پهTUSLA کې د جلا شووماشومانو ټیم په هیواد کې له 18 کلو کم عمره وګړو د ښېګڼېاوپالنې له پاره مسؤل دی. تاسېبه د TUSLA استازي ته وګومارل شيچې (ټولنیز کارکوونکي یا پالونکي) به تاسېسره مرسته وکړي.تاسېله پاره د TUSLAله خوا د پالنې یو پلان به جوړ شي . تاسېکولی شې چې آیرلینډ کې د پاتې کېدو په اړه، دې دټولو شیانو په اړه له دغه کس سره بحث کولی شې.

کله چې تاسې TUSLAته راجع شوې، TUSLA به ستا د پالنې د ټولو ټولنیزوښېګڼو رولپه غاړه اخلي.کېدایشي چېTUSLAتاسې له کومې بلې کورنۍ غړو سره پهآیرلینډ کې مو یوځای کړي ( که چیرته دا مناسبه وي).

دغه فیصله به TUSLAهم کوي چې دابه تاسې په ګټه وي چې د نړیوال خوندیتوبله پاره یوغوښتن لیک ورکړي او که نه.TUSLA دغه غوښتنلیک به تر هغې پورې نه ورکوي ترڅوچې په دې ډاډه شي، چې دا به تاسې په ګټه وي، چې غوښتنلیک ورکړي.دا مهمه ده چې تاسې له TUSLAسره دخپل حالاتو په اړهریښتینې اوسې،تر څو چې هغوي د ممکنه ښو مالوماتو پربنسټ، د قانوني لارښوونې په ګډون یوه فیصله وکړای شي.

# 3.د لومړنی غوښتنلیک پروسه

که چېرتهTUSLAدا فیصله وکړي چې دا ستا پهښېګنه ده چې د نړیوال خوندیتوب له پاره یو غوښتن لیک ورکړي، دوی به د قانوني مرستي له هیأت سره تماس ونیسي، چې ستا د نړیوال خوندیتوبله پاره د غوښتنلیک د قانوني لارښووني او مرستې په اړه اوهمدارنګه دخوندیتوب په ټوله پروسه کېتاسې سره به مرسته کوي.

همدارنګه TUSLAبه د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO)د ښه راغلاستبرخه سره به همنېټه او وخت واخلي چې ستاسي غوښتنلیک ارایه کړي.

تاسي باید په خپله شخصاًد نړیوال خوندیتوبغوښتنلیک باید د آیرلینډ دتابعیت او مهاجرت دخدمتونوکې د(IPO)نړیوال خوندیتوب دفتر:
International Protection Office of Irish Naturalisation and Immigration Service,79-83 Lower Mount Street, Dublin 2.
تهورکړی کېدی. هغه دفتر به هم ستاسې غوښتنلیک طرزالعمل لاندې ونیسي.



**(د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) دننوتلوعمومي لار)**

تاسي به دغه دفتر ته د ستاسي خپلد**TUSLA** استازي له خوا بدرګه شئ. **TUSLA** به ستاسي په استازولی د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک ورکړي.

که چېرته تاسي له مونږ سره د تماس له پاره د کوم ژباړن مرستې ته اړتیا لرئ هغه به تاسي ته چمتو کړای شي.

## 4.یو ژباړونکی څه کولی شي؟

داچې تاسي اود نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) کارکوونکي تاسي یو بل سره په خبرو پوه شی، یو ژباړن به هر هغه څه چې تاسي وایېژباړي. ژباړن په انګلیسي او هغه ژبه چې تاسي پرې خبرې کولای شي دواړو ژبو پوهېږي. ژباړن په عمومي توګه به په هماغه کوټه کې کښېني چې تاسي په کې ناست یاست. د ژباړن په واسطه تاسي او د پذیرایی کارکوونکي او تاسي یو بل سره خبرې کولی شئ. ژباړن به یوازې هغه څه ژباړي کوم چې ویل کېږي. ژباړن ته اجازه نشته چې ستاسي قضیې اویا ستاسي شخصی تفصیلاتو په اړه له کوم چا سره وغږېږي، نو تاسي خپله قصه په ډاډ او باور سره ویللای شي.



(د ښه راغلاست دفترته د ننوتلو لار)

## 5.لومړنۍ مصاحبه

دنړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) د بنه راغلاست برخه له هغوخلکو څخهد غوښتنلیکونو دقبلولو یا اخیستلومسؤولیت لري،کوم چې د نړیوال خوندیتوب له پاره غوښتنلیکونه ورکوي. تاسې به په خاص توګه د بنه راغلاست برخېله کارکوونکو سره خپله لومړنۍ مصاحبه وکړئ چې تاسې به دغو پوښتنو ته ځواب ووایاست:

- ستاسې نوم څه دی،
- کله اوچېرتهزیږېدلي یاست،
- ستاسې کورنۍ په اړه،
- ستاسې د مور او پلار پته او تفصیلات یی،
- تاسې له کوم ځای یاست،
- په کومو ژبو خبرې کولی شې،
- څنګه مو آیرلینډ ته سفر وکړ،
- تاسې ولې خپل کورنی هیواد پرېښودلی،

ستاسې لومړنۍ مصاحبه دا به هم په ډاګه کړي چې که چېرته د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO)ستاسې غوښتنلیک اخیستلی شي. داداطمینان پروسې په توګه پېژندل شوې.



**(د بنه راغلاستعمومي ساحه)**

د بنه راغلاست برخې کارکوونکي به ستاسې څخه دا پوښتنې وکړي، ترڅو دوی تاسې د نړیوال خوندیتوب دفتر (**IPO**)د کمپیوټر په ډېټابېسکې داخل کړي.



**(دلومړنۍ مصاحبې کوټه)**

د نړیوال خوندیتوب دفتر (**IPO**)له پاره دا مهمه ده چې په هغولاملونو پوه شي چې تاسې ولې په خپل کورني هیواد کې اوسېدلی نه شئ او تاسې آیرلینډ ته د رارسېدو له وخته څه رنګه احساس کوئ.

لکه چې څنګه چې مخکې ذکر شو،د لومړنۍ مصاحبې نه وروسته به**TUSLA**ستاسې په استائیتوب د نړیوال خوندیتوب له پاره درخواست ورکوي که چېرته دا ورته په ډاګه شي چې دا ستاسې په ګټه به وي چې داسې وکړي.

## 6.تصویر او دګوتونخښني

د ارزوني دپروسي دیوې برخې په اساس به له تاسېڅخه غوښتنه وشي چې ستاسي تصویر باید واخلي. تاسې نه به دا هم وغوښتل شي چې د ګوتو نخښې مو واخیستلې شي، که چېرتهستاسي عمر له 14 کلوڅخه ډېروي. تاسي ته به د موقتي استوګنې تصدیق (TRC) درکړل شي. دا به ستاسې شخصي تفصیل او تصویر ولري. که څه همTRC د یو هویت کارت یعنيID په څیر ښکاري، خو داد هویت یو رسمي سند نه دی. دا تاسې ته په آیرلینډ کې د اوسېدواجازه درکوي،تر څو چې ستاسي غوښتنلیک د ارزونې لاندې وي. تاسي باید دغه کارت خوندی وساتئ.

### د نېریوال خوندیتوب دفتر (IPO)ولې دګوتو نخښې اخلي؟

نوموړی دفتر ستاسېګوتو نخښې دی لپاره اخلي ترڅو چېدا په ګوته کړی چې که چیرې تاسې پخوا آیرلینډ یا کوم بل اروپایي هیواد کې مو د نړیوال خوندیتوب له پاره غوښتنلیک ورکړی دی که نه.که چېرته تاسي له 14 کالو څخه زیات یاست د ښه راغلاست برخې کارکونکی به ستاسې د ګوتو نخښې واخلي.

### د ګوتو نخښې څنګه اخیستلکیږي؟

د ګوتو نخښې په هغه وخت کې اخیستل کیږي چې کله تاسي خپلې ګوتې په ماشین کېکاږئیعنې فشار ورکړی، هغه په داسې ډول ستاسې د ګوتو نخښې لولي.




**(د ګوتو د نخښې ماشین)**

**د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) د ګوتوپه نخښنو څه کوي؟**

د ګوتونخښې ځو ډېټابېسونو ته لیږلکیږي. چې دهغو څخه یو په آیرلینډ کې دی. په دغه ډېټابېس کې، هغه دفتر کولای شي چې وګوري کهچیرې تاسې پخوا دخوندیتوب له پاره په آیرلینډ کې غوښتنه کړي ده او که نه.

اروپایي اتحادیه (EU)د ګوتونخښې یو بل ډېټابېس لري چې د ایروډاک (Eurodac) په نامه یادېږي.د اروپاEU ټول 28 هیوادونه او،آیسلینډ(Iceland)، ناروې او سویسهیوادونه دی ډېټابېسته لاسرسی لري او کولای شيچي وګوري یی.

دا هیوادونه ټول د ډبلین د پروسې برخوال دي چې دهغه پناه غوښتلو ټړونه وروستهچې په ډبلین کې لاسلیک شوې په نامه یادېږي وه.

که چېرته تاسې په هریو له دغونومړو هیوادو کې د خوندیتوب له پاره غوښتنه کړې وي، دا به د ایروډاک په ډېټابېسکې وښیي.

## 7.آیا کېدای شي چې زه کوم بل هیواد ته بېرتهولیږل شم؟

که چېرته تاسېډ نړیوال خوندیتوب له پاره په بل کوم هیواد کې چې د ډبلین **EU** پروسه کې یې ګډون کړی وي غوښتنلیک ورکړی وي، هغه هیواد به ستاسې د غوښتنلیکمسؤولیت په غاړهلري. په داسې حال کې به، په آیرلینډ کې د نړیوال خوندیتوب دفتر (**IPO**)به ستاسې قضیه ترډې وړاندې نه پروسه کوي، او کېدای شي چې تاسې به هغه هیواد ته بېرتهولیږل شئ، چېرته چې تاسېلومړی ځل لپاره د نړیوال خوندیتوب له پاره غوښتنلیک ورکړی، که چېرته دا ستا په ښېګنه وینو داسې به وشي.

د دغه طرزالعمل په موده کې، مونږ به ستاسې د ښېګڼې له پاره به ټل اقدام کوو، او مونږ به تاسې داسې هیواد ته ونه لیږو، چېرتهچې ستاسې بشري حقوق نه سرغړونه وشي.مونږ به همدغه راز دابه غوره کړو، کېدای شی چې ستاسې د غوښتنلیک ارزونه په دی هیواد کې وکړو، آن ترډې چې که دقانون له مخې بل هیواد ددې مسؤولیت ولري.مونږ داسې د بشري، کورني او کلتوري لاملونو له مخې کولای شو.

## 8.د ډبلین مقرره

### د ډبلین قوانین مقررې څه شی ده؟

د اروپاEUپه 28 هیوادونو کې (اتریش، بلجیم، بلغاریا، کرویشیا، قبرص، د چک جمهوریت، ډنمارک، استونیا، فنلینډ، فرانسه، جرمني، یونان، هنګري، آیرلینډ، ایټالیا،لاتویا، لتوانیا، لوکزامبورګ، مالټا، هالینډ، پولینډ، پرتګال، رومانیه، سلواکیا، سلوانیا، هسپانیه، سویډن، انګلیستان متحده هیوادونه،په شمول د ناروی، آیسلینډ او سویټزرلینډکې ځینې قوانین دي، چې کوم هیواد ستاسې د خوندیتوبد درخواست پروسهمسؤولیت لري. مقررات وایي چې یوازې یو هیواد باید درخواست په پام کې ونیسي.

دغه مقررې د ډبلین دمقررې په نامه یادیږي اود یو قانون په څېر په دغوټولو هیوادو کې د پلي کېدو وړ دي. که چېرته تاسې آیرلینډ ته د راتګڅخه مخکې په بل ډبلین هیواد کې واست، تاسې باید بیرتههغه هیواد ته ولاړ شئ. دا په لاندې حالاتو کې د پلي کېدو وړ دي:

- تاسې له دی څخه مخکې په بل ډبلین هیواد کې د نړیوال خوندیتوب درخواست ورکړی،
- ستاسې مور او پلار او یا ساتونکي په بل د ډبلین هیواد کې اوسیږي،
- تاسې په بل ډبلین هیواد کې خپلوان لرئ،چېرته چې په هغه هیواد کې ستاسې پالنه کولی شي،

### څه به پیښ شي که چېرتهبل د ډبلین هیواد زما د نړیوال خوندیتوب درخواست په پام کې ونیسي؟

بیاتاسې اوستاسې دTUSLAاستازي سره به د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO)کارکوونکي په دی اړه مشوره وکړي. تاسې ته به دډبلین مقررې د فیصلې په اړهمالومات درکړل شي، که چېرته بل هیواد ستاسې د غوښتنلیک په پام کې نیولومسؤل ؤ یا مسؤل کېدای شي. تاسې ته به فرصت درکړل شبیه کوم کی تاسې ورکړای شي چې د بل ډبلین هیواد ته نه تلو دلیل وړاندی کړی. تاسې ویلای شي چې ولې ستاسې غوښتنلیکدهغې په ځای په آیرلینډ کې په پام کې ونیول شي. ستاسې دTUSLAاستازي به تاسې سره په دغه پروسه کې مرسته وکړي.

**آیا زه د ډبلین په فیصلهپر خلاف، بیا کتنه یا استیناف، کولی شم؟**
که تاسې د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO)په فیصله خوښ نه یاست، تاسې دی ته مستحق یاست چې فیصله د نړیوال خوندیتوب درخواستونو محکمې استیناف(IPAT)ته وغواړئ.**هغهمحکمه به دا په پام کې ونه نیسي چې تاسې ولې د نړیوال خوندیتوب ته غوښتنلیک ورکړی.دا به یوازې دافیصله کوي چې کوم هیواد باید ستاسې د نړیوال خوندیتوب د درخواست پاملرنه وکړي.لطفاً ډبلین دپروسې په اړه دمالوماتو جلا کتابګوټې ولولئ کوم چې تاسې ته مخکې درکړل شوی دی.**

## 9.هویت څه شی دی؟

---

هویت عبارت دی له، تاسېڅوک یي، ستا نوم څه دی، ته کله زېږېدلی یې، ته له کوم ځای یې او ستا مور او پلار او پالونکي څوک دي.

**زه ولې باید دا ثابته کړم چې زه څوک یم؟**
د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO)غواړي چې په دی پوه شي چې تاسې څوک یاست او له کوم ځای یی، دادذي له پاره دی، چې ترڅو په دې وکولئ شي چې ستاسې د خوندیتوب غوښتنلیک په اړهصحیح تصمیم ونیسي. دا ستاسې مسؤولیت دی چې تاسې دا ښکاره کړی چې تاسې څوک اوله کوم ځای یئ. د دی لپاره ښه لاره داده چې تاسې خپل د پاسپورټ یا تذکرېیا ای ډي کارډ،په ښودلو سره خپل هویتثابت کړی، که تاسې نه شی کولایچې وښیئ، چې تاسې څوک یاست، دابه د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) ته ګرانه وي ترڅو دا وارزوي چې تاسې نړیوال خوندیتوبحق لرئ اوکه نه.



## 10.د عمر ارزونه

که چېرته ستاسي د عمر په اړهد نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) ته شک وي، د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) به دا انتظام ونیسي چې د عمر ارزونه مو اجراشي.زیاترهد نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO)ته دعمر دټاکلو یا ارزولو په پروسه کې دTUSLAد کارکوونکو له خوا لارښوونه کېږي.

**د عمرارزونه څه شی دی؟**
په دغه پروسه کې،د عمر ارزونه یوه اشنا نظریه ده چې یو شخص څو کلن دی. که تاسي خپل عمر ونه ښايي اويا ستاسي عمرصحیح نه ښکارېده نود نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) به ستاسي عمر اټکل کړي چې تاسي دڅوکلویاست.

**ولې دا مهمه ده چېزه خپل عمر ښکاره کړم؟**
که تاسي دهویت کوم اسناد ونه لرئ او یا تاسي خپل عمر په بله لاره ښودلی نه شئ، او یا ستاسي عمر صحیح نه بریښي، نود نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO)د ښه راغلاست برخي کارکوونکي به له تاسي سره په دی اړه خبرې اترې وکړي، چې تاسي د څو کلو یاست. دا پهمانا ده چې دکارکوونکو یو غړی به له تاسي سره خبرې وکړي ترڅو دا وارزوي چې تاسي د څو کلو یاست.

## 11.د عمر ارزونې مصاحبه

د عمر ارزونې مصاحبه داسي طرحه شوې چې ستاسي د سفردتیاریو په اړه، ستاسي دمور او پلار یا پالونکو، ستاسي تعلیمي کچه یا معیار او ستاسي د بلوغت د کچې په شاوخوا کې ځینې بنستیز حقیقتونه تأسیس کړي.د ښه راغلاست برخه کار کوونکی بهبیا فیصله وکړي که چېرته تاسي له 18کالو کم یاست یا نه. کهچېرته دا فیصله شوه چې تاسي له 18کالو کم یې نو تاسي به TUSLAته راجع شئ.

## 12.زما د غوښتنلیک له ارایی څخه وروسته، نور څه؟

تاسي باید د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) سره دخوندیتوب د غوښتنلیک په پروسه کي همکاري وکړئ.

ستاسې غوښتنلیک به د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) په واسطه دعدلیې او مساوات د وزیر په نیابت وارزول او فیصله به شي، که چېرته تاسېد نړیوال خوندیتوب وړ یاست یا په آیرلینډ کې ستاسي دپاتې کېدود اجازې له پاره نوردلیلونه شته.

داده چې د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) باید ستاسي هویت، ملت، د سفر لار، که چېرته په کوم بل هیواد کې ستاسي تم کېدل اوپه آیرلینډ کې د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO)کېستاسي د درخواست د ورکولو لاملونه ارزوي.

ددې له پاره چې دا په سمه توګه ترسره شی، تاسې باید د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO)کې کارکوونکو ته خپل ټول اسناد او کاغذونه ورکړئ،تر څو چې د دی په مرسته له تاسي څوک یاست او له کوم ځایه راغلي یاستمعلوم شي. مهرباني وکړئ ستاسي نور هغه ټول سندونه چې د ستاسي د غوښتنلیک پورې اړه ولري، مونږ ته بیراکړئ.

دا ډېره اړینه ده چېد نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک د پروسه کولو په ترڅ،تاسې باید مونږ ته رښتیا ووایئ.که تاسې مالومات وکولو څخه مانع شي او مونږ ته ټول حقیقت ونه وایئ، تاسي ته به د نړیوال خوندیتوب در نه کړل شي او نه به په آیرلینډ کې د پاتیکېدو اجازه در کړل شي.

که چیرې تاسي د خپل د غوښتنلیک دارزوني له پاره مونږ سره همکاري ونه کړئ، بیابه ستاسي پردرخواست موجوده معلوماتو پر بنسټ چې ستاسي په دوسیه کې تر دغه پړاوه پوریاخیستل شوي دي، فیصله وشي.

کله چې تاسي دحفاظت په پروسه کې یاست تاسې د قانوني مرستندویه بورډ د قانوني لارښوونو مستحق یاست اوستاسي دTUSLAاستازی به د دغه خدمت له پاره چمتووالی ونیسي.

## 13.پوښتن لیک

تاسي ته به یو پوښتن لیک درکړل شي چي تاسې یې باید ډک کړئ اود نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) ته په یوه ټاکلې نېټه تر مخه بېرتهورکړئ.ستاسي دTUSLAاستازی به تاسې سره به د پوښتن لیکپه ډکولو کي مرسته وکړي اوهمدارنګه د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) ته په یوه مخکې تادیه شوې پاکټ کې چې د دفتر له خوا چمتو کېږي، کی یی بېرتهستنولو کېيي مرسته وکړي.

کوم مالومات چې تاسي په پوښتن لیکنړیوال خوندیتوب ته یې چمتوکوئد دی ورکړ شوی او په نورو لاملونوچي ولې تاسي غواړئ په آیرلینډ کېپاتې شئ، د غوښتنلیکد ارزونې په ترڅ کې په پام کې و به نیول شی.دا اړینه ده چې تاسې ټول هغه لاملونه چې د نړیوال خوندیتوب لهپاره ادعا کوي، اوټول هغه لاملونه چې تاسي ولې نه شئ کولای، چې خپل کورته ستانه شئ، اوغواړئ چې په آیرلینډ کې پاتې شئ، په خپل پوښتن لیک کې بیولیکئ.

**دا په یاد ولرئ چې پوښتنې په ریښتیني او مکملهتوګه ځواب کړئ،چې مونږ ته د ښه ممکنه مالومات په لاس ولرو.**



**(د مصاحبې له پاره دانتظار ساحه)**

## 14.اصلي مصاحبه

د نړیوال خوندیتوب د پروسې له پاره په عام ډول ستاسې اصلي مصاحبهکې ګډون ته ضرورت دی.تاسې او TUSLA ته په لیکلي ډول د وخت، نېټې او ځای د خوندیتوب د غوښتنلیک په مصاحبه کې ستاسې د ګډون په اړه به خبر درکړل شي. د مصاحبې څخه مقصد په آیرلینډ کې ستاسې د نړیوال خوندیتوب د ادعا د مکملو تفصیلاتوتاسیسول دي.

دتجربه کار مصاحبه کوونکو یوه ډله چې د ځانګړیو روزنو څخه برخمن د نړیوال خوندیتوب په دفتر(IPO) کې له هغوی سره چې ستاسې په ګډون (بې سرپرسته / جلا شوو ماشومانو) قضیو باندې کارکوي مرسته وکړي. ستاسې مصاحبه کوونکی په ځانګړي ډولد 18 کالو نه دکم عمر ماشومانو سره، د مصاحبه کولو له پارهروزل شویدی.



(داصلي مصاحبې کوټه)

دا اړین ده چې تاسې باید ټول هغه شیان مونږ ته ووایېکوم چې تاسي ته سره پېښ شوي دي او تاسي ولې خپل کورته نه شئ ستنېدای.مصاحبه کوونکي ته اړینه ده چې په هغو لاملوپوه شي چې تاسې ولې خپل کورني هیواد کی نه شئ اوسېدلای.ستاسي مصاحبه به ثبت (نوټ) هم کړل شي. دا ثبت کړی شوی یادښت په اساسي ډول هغه لیکنی دی چې تاسې په خپل مصاحبه کې ویلي دي. تاسې اوستاسې د TUSLA استازی به د مصاحبې نوټ په پوره ډول توګه ولولئ، او دستاسې مصاحبه کوونکې سره موافق کېدلو لپارهدهرمخ په پای کې خپل لاسلیک تر سره کړی.

که په هغهنوټ کې کومه غلطي وي،نو دا اړینه ده چې تاسې هغههماغه د خپل مصاحبې په ورځ صحیح کړی، که نه دا به تاسې ته ګرانه وي چې وروسته یې صحیح کړئ.

مصاحبه له 2 څخه تر 3 ساعتوکې به تکمیله شي، خو تاسې تشویش مه کوئ، تاسې ته به په منظمه توګه دمې درکړل شي. که چېرتهتاسې له هره کبله کومې دمې ته اړتیا لرئاو یا خواشینی یاست، تشویش مه کوئ، تاسې خپل مصاحبه کوونکي ته ویللای شئ او هغه به تاسې ته دضرورت وړ وخت درکړي.

ستاسې د مصاحبېد بشپړېدو نه وروسته، هغهټول مالومات چې ستاسې له غوښتنلیک، پوښتن لیک، ستاسې مصاحبې اوستاسې په استازولۍ تسلیم شووسندونوڅخه راټول شوی دي،هغه راپور نه مخکې چې ستاسې د غوښتنلیک په اړه چمتوکېږي،دا ټول بهپه پام کې ونیول شي.

## 15.ستاسې د غوښتنلیک دارزوني نه وروسته راپور

د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) ستاسې د غوښتنلیک د ارزوني په نتیجه کې بهیوراپور چمتوکړي، کوم چې د سپارښتني اوموندني به پکي شاملې وي،چې آیا تاسې د نړیوال خوندیتوب وړ یاست اویاداسې نور لاملونه شته چې په هغه دلیل تاسې ته په آیرلینډ کې داوسېدلواجازه درکړای شي.

راپور به ستاسي د غوښتنليک، د ستاسي د غوښتنليکفورمه، ستاسي دپوښتن ليک او که کومه داسي مسئلي چي تاسي دمصاحبي په ترڅ کي را تر مخه کړې وي، پورې به اړه ولري.ستاسي په استاځيتوبدTUSLA، ستاسي د قانوني استازي او يا د هر هغه بل کسبيان به هم په پام کې ونيسي.

## 16.سپاربښتنه

د نړيوال خونديتوب دفتر (IPO) بهستاسي غوښتنليک د نړيوال خونديتوب له پاره وارزوي اوسپارښتنه به وکړي که چېرته:

**(1) تاسي د پناه وړنوکی مقاميا (مهاجرت حالت)وړ ياست؛**
**(2) تاسي دمتمم خونديتوب وړ ياست؛**
**(3) يا کوم نور لاملونه شته چې تاسې ته په آيرلينډ کې دپاتې کېدو اجازه درکړای شي؛**

**(1) د مهاجرت حالت يا پناه وړنوکی مقام**

هغه څوک که خپل کورني هيواد ته بېرتهستون شي او هلته هغويچېرته تعذيب ته مخامخ وي آيرلينډ کي د يوه مهاجر په توګه تم کېدای شي. ددې له پاره چې د مهاجر حالت ورته ورکړل شي، يو درخواست کوونکی بايد يو له دغو پنځو لاملونو دتعذيب ويره ولري چې هغه نه شي کولای او يا ونه شي کولي چې خپل کورنی هيواد، د هيوادني خونديتوب له پاره استعمال کړي، د بېلګي په ډول د پوليس حفاظت اخيستل.

**<u>5 لاملونه</u>**

- نژاد(منشاء)، چي ملي يا قومي منشاء (دبېلګې په توګه د پوستکي رنګ
- مليت، دمثال په توګه ژبني يا قومي ډله.
- دين.
- سياسي عقيده ( داسي عقيدي لکه په يوه هيواد کې څنګه حکومت وشي).
- يوې ځانګړي ډلي پورې تړون، جنس (نجلۍ يا هلک) ياجنسيتي لورموندنه، (جنسيتي لورموندنه په دی مانا چي يو کس له يوېنجلۍ، هلک يا دواړه نجوني او هلکانو سره مينه کوي).

د مهاجرت خوندیتوب تاسې ته تطبیق وړ دی، دا پروا نه لرې کهتعذیب، د هیواد د چارواکوله خوا وي،او یاچېرتهکه تاسې ته د تعذیب له پاره د هیواد چارواکي خوندیتوب نه چمتو کوي، یا چمتوکولای نه شي.

**(2) دمتمم خوندیتوب له پاره د اشخاصو وړتیا**

هغه خلک چې دمتمم خوندیتوب له پاره اړتیا لري،هغه مهاجر نه دي کوم چې قانون تعریف کړي دي، خو هغوي تر اوسه هموربېږي کهچېرې خپل کورني هیواد ته بېرتهستانه شي.

درې غوره لاملونه دي چې یو څوک دمتمم خوندیتوب له پاره اړتیا لري او دوی نه شي کولای چې خپل کورني هیواد ته بېرته ستانه شي.دا نوموړی ـ

1. له شکنجه اویا د مرګ له سزا څخه هلته خطر لرې.
2. له ځینې، د نورو غیر انساني او تحقیری طرزالعمل یا چلند سره به مخ شیکهچېرې بېرته ستون شي.
3. ځکه خوندیتوب له پاره اړهلرې ځکهچی هغه به په هیواد کې جدي خطر ته مخ دی یا په جنګ او یا نورو تاوتریخوالي کې ټپي شي.

که چیرې تاسې په خپل هیواد کې د ځایی چارواکو څخه خوندیتوب او مرسته تر لاسه نه شی کولای تاسې خوندیتوب له پاره به اړتیا لرئ.

**(3) دپاتې کېدو اجازه.**

کله چې تاسي خپل د نړیوال خوندیتوب پوښتن لیکډکوئ دا په تاسې اوستاسې دTUSLAاستازیپورېاړوند ده چې په آیرلینډ کې دپاتې کېدو داجازې له پاره په لیکلې توګه دلیلونه وړاندی کړی. په دغه اړه د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) ستاسې په حالاتوکې له هر تغیر څخه باید با خبره وساتئ.

د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) به ستاسې درخواست د وزیر له اړخه به و ارزوئ، ستاسې کورني او شخصی حالات او ستاسې حقوق به هم په پام کې ونیسي ترڅو چې ستاسې شخصي او کورني ژوند ته درناوی وشي، د لاندې شرایطو په مراعاتکولو سره

- دهیواد (آیرلینډ) سره ستاسې د اړیکې د ماهیت په اړوند، که کوم وي
- بشري حقوق په پام کی ساتل
- ستاسې اخلاق اوچلنددواړه دننه او دهیواد (آیرلینډ) نه دباندې، (دجرمي محکومیتونه په ګډون سره)،
- دملي امنیت او عامه نظم په نظر کی ساتلو سره، او
- دعامه ګټوکومه بله پله په نظرکې ساتل

وزیر به هم د هرې هغې موضوع په اړه چې ستاسې له خوا په ډاګه شوی چې د ملک څخه ستاسې د نه ایستلو (شړلو)له پاره وي هم به ملاحظه کړي.

د شړلو مانا دا چې، د هیواد (آیرلینډ) څخه هیڅوک به یو داسې هیواد ته بېرتهستون نه کړلي شبېچېرته چې ژوند اویا ازادي یبپه ګواښ کې وې.

## 17.که ماته د نړیوال خوندیتوب راکړل شي نو څه به پېښ شي؟

که تاسي ته نړیوال خوندیتوب (د مهاجرت حالت یا متمم حفاظت) اویا د پاتي کېدو اجازه درکړل شي تاسي ته په عمومي ډول په آیرلینډ کې د پاتې کېدو له پاره اجازه درکړل شي.

که چېرته تاسي ته **دمهاجرت حالت یا متمم حفاظت یاخوندیتوب** درکړل شي تاسي ته به یولیک درورسېږي،چې هغه کې تاسي به نور څه کوې، او همدارنګه ستاسي د حقوقو اومکلفیتونو په اړه مفصل معلومات لیکل شویوي.

که چېرته تاسي ته **دپاتې کېدو اجازه** درکړل شوي وي،نو تاسي ته به یو لیک هم دررسېږي چې تاسي به نور څه کوئ او همدارنګه ستاسي د حقوقو او مکلفیتونوپه اړهتفصیلي مالومات چمتو او لیکل شوي وي.

## 18.که ماته د نړیوال خوندیتوب (د مهاجرت حالت یا متمم حفاظت) را نه کړلشي نو څه به پېښ شي؟

که چېرته وزیر تاسي ته د مهاجرت حالت یا متمم حفاظت اظهارڅخه ډډه وکړي تاسي حق لرئ چې دغه سپارښتنې په اړهدنړیوال خوندیتوب داستیناف محکمې نظر وغواړئ.

که چېرتهوزیر تاسي ته د مهاجرت اعلامیې څخه ډډه وکړي اوفیصله وکړي چې متمم حفاظت در کړي، نو تاسي بیاهم د مهاجرت حالت څخه د ډډې په اړه د بیا کتنې نړیوال خوندیتوب داستیناف محکمې د نظرغوښتنې حق لرئ.

د بیا کتنې یا استیناف داپیل د کولواخیرنی نېټه اونور اړوند مالومات ستاسې د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) له سپارښتنو سره به یو ځای در ولېږل شي.

که چېرته داحالت په مخه شيTUSLA او دقانوني مرستو بورډ به د استیناف (درخواست)د چمتو کولو په اړهتا سې سره مرسته وکړي. نو TUSLAاو دقانوني مرستو بورډ دخوندیتوب په ټوله پروسه کې به تاسې سره مرسته وکړي.

که چېرته تاسېد بیا کتنې نړیوال خوندیتوب داستیناف محکمې د درخواست په تعقیب رد شوې یاست، او د وزیر ملاحظه دا وې چې نور داسېکوم دلیلونه نشته چې د هغه په بنیاد تاسې ته په آیرلینډ کې د پاتې کېدواجازه درکړل شي. نو تردې زیات تاسې ته به اجازه نه وي چې آیرلینډ کې تم شئ، نو بیا تاسې ته دا اړینه ده، چېتاسېخپل دا حالت په اړه دTUSLAلهاستازي او د قانون سلاکارانوسره په دی اړه وغږېږئ.

داستیناف غوښتنې په اړهنو مالومات په دغه ویب پاڼه کې موجوددي:
**www.protectionappeals.ie**

## 19.هغه موسسې چې تاسې به ورسره په تماس کې کیږئ

د نړیوال خوندیتوبد طرزالعمل په ترڅ کې، تا سې به د بېلابېلو موسسوله خلکو سره ووینئ. تاسې کولای شئچې د دی په اړه لاندې ولولئ، چې دا مؤسسې څه کوي.

**دآیرلینډ دتابعیت او مهاجرت خدمتونه(INIS)، دعدليې او مساوات رياست**

دآیرلینډ دتابعیت او مهاجرت خدمتونه دعدليې او مساوات وزارت د پناه وړولو، مهاجرت (د وییزو په ګډون)، اوتابعیت په مسئلو کې د اداري دندو مسؤولیت لري.

**ويب پاڼه يي:** [www.inis.gov.ie](http://www.inis.gov.ie)

**د نړیوال خوندیتوب دفتر (آی پي او - IPO).**
دآیرلینډ دتابعیت او مهاجرت خدمتونو د نړیوال خوندیتوب دفتر (**IPO**)غوره دنده د هغه درخواست کوونکی چې په آیرلینډ کې د نړیوال خوندیتوب وړ دی، او حتی که درخواست کوونکی وړ نه وي، او يا هغه باید (دنورو لاملونو له مخې) په آیرلینډ کې د تم کېدو اجازه به ولري، او که نه، ددغو ټولوغوښتنلیکونو پلټنه او دعدليې او مساوات وزیر له خوا د سپارښتنو/اوفیصلو صادرول دي.
**د تماس تفصیلات په 24 مخ کېدی**

**دقانوني مرستو بورډ یاهیئت (LAB).**

تاسي حق لرئ چې له یو وکیل سره مشوره وکړئاو کولای شئ چېدقانوني مرستو بورډ مرستې لاس ته راوړي. د قانوني مرستو بورډ آیرلینډ کې دخوندیتوب ته د درخواستورکوونکو له پاره د محرمیه توګه مرستې چمتو کوي. دقانوني مرستو بورډ ستاسي د خوندیتوب درخواست د حمایې له پاره به مرسته اولارښوونه درکړي.

هغوي تاسي سره آیرلینډکې خوندیتوب درخواست د پوښتن لیک په ډکولو کې او نورو لاملونوله کبله پاتي کېدو، کې به مرسته وکړي. هغوي به تاسي سره داصلی مصاحبې له پاره چمتووالي کې هم مرسته وکړي او هغوي وزیر ته ستاسېد غوښتنلیک په حمایه کې وړاندیز لیکلیاوستاسي له خوا یې وړاندې کولی شي.

ویب پاڼه یې: [www.legalaidboard.ie](http://www.legalaidboard.ie)
ټیلیفون نمبر یې: **01 - 6469600**

**د ماشوم او کورنۍاداره –TUSLA**

An Ghníomhaireacht um Leanaí agus an Teaghlach
Child and Family Agency

د جلا شویو ماشومانوبرخه دهغو ماشومانو پالنه کوي چې بې له مور او پلاره او یا د پالونکي څخه آیرلینډ ته را رسیږي. هغوي د جلا شویوماشومانوسملاسي پالنه او رواني اړتیاوې چې د خوندیتوب په لټه دي،پوره کوي.استوګنځۍ، روغتیا او ټولنیزې اړتیاوې او همدارنګه د نړیوال خوندیتوب له پاره د درخواستونو ورکول د ماشوم له خوا د **TUSLA**مسؤولیتونو څخه دي.

**ویب پاڼه یې:** [www.tusla.ie](http://www.tusla.ie)
**دټیلفون شمیره یې: 01 - 6477000**

**د نړیوال خوندیتوب د بیا کتنې د استینافمحکمه (IPAT)**

د نړیوال خوندیتوب د بیا کتنې داستیناف محکمې دندهپرغوښتنلیکونو د نړیوال خوندیتوبد دفتر دسپارښتنوپه مقابل کېدبیا کتلو (استیناف)ملاحظه کول اوفیصله کول دي.

**ویب پاڼه یې:** www.protectionappeals.ie

**د تیلیفون شمېره: 01 - 4748400**

**د کډوالو له پاره دملګرو ملتونوعالي کمشنر (UNHCR).**

**UNCHR**پهآیرلیند کې دکډوالواو پناه وړولو له پاره د قانون او پالیسی چمتوکول اولارښوونه کوي. هغویپه عادي ډول د انفرادي پناه ووړوونکو له پاره استاځیتوب نه چمتو کوي، که څه هم د خوندیتوب څانګه کېدای شي چې د انفرادي قضیو له پاره پناه ووړوونکي، مهاجرین او بې وطنه خلکوته، چې د سملاسي او تخصصي مرستو ته اړتیا ولري، حمایه او لارښوونه چمتو کوي.که تاسې مرسته غواړئ تاسې او ستاسې قانوني استازي کولای شي چې له دغه دفتر (**UNHCR**) سره تماس ونیسي.

پته:
**102 Pembroke Road,**
**Ballsbridge,**
**Dublin 4, Ireland**
**د برېښنا لیک: عمومي مالومات:**iredu@unhcr.org
**تیلیفون شمېره: 01 - 6314510**

## 20.نور مالومات

که تاسي د خوندیتوب د پروسې په اړه نورې پوښتنې لرئ، نو تاسيTUSLA، سره په قانوني مرستو بورډ کې د قانوني استازی څخه پوښتلی شئ،یا تاسي له نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) سره تماس نیولی شئ. همدغه راز که تاسي کومه پوښتنه لرئ پخپله ييد مصاحبې په ترڅ کې يې پوښتنه کولای شئ. تاسي باید معلوماتيخپرونه چې”د نړیوال خوندیتوب درخواست ورکوونکو د معلوماتي کتابګوټي په نامه” ده ويې لولئ.

د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) ته په لاندې ډول لاسرسی لرلی شئ.

ټیلیفون:6028008 - 01 – د دوشنبې نه ترجمعې، دسهار9:15بجو څخه د غرمې وروسته تر4:30بجو پورې.
ویب پاڼه: www.ipo.gov.ie
بریښنا لیک: info@ipo.gov.ie

لیک: International Protection office
79 – 83 Lower Mount Street
Dublin 2

که تاسي غواړې چې د خپل درخواست دپرمختګ په اړهکومه پوښتنه وکړئ، نو تاسي باید دغه مالومات په لاس ولرې.

ستاسي د دوسيې شمېره
ستاسي پوره نوم

**دشکایاتو طرزالعمل:**
که چیرته تاسي غواړئ،چې ستاسي د درخواست د پروسېډ څنډ یا مراجعینو خدمتونو کمزوري وو، او دیاره شکایت وکړئ، نو تاسي کولای شئ چې مونږ سره په لاندې ډول تماس ونیسئ:

Customer Liaison Officer
International Protection Office
79 – 83 Lower Mount Street
Dublin 2

## 21.ستاسې د ټيليفون مهمې شمېرې او برېښناليکی پتې

